مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۳/۰۸/۳۰

# د معجزی قیمت

## (لنډه کیسه)

سارا اته کلنه انجلي وه ، چې د پلار او مور د خبرو څخه یې چې په خپل مینځو کې غږیدل دا خبره واوریده ،چې د ده کوچنی ورور ناروغه دی . او دوي د دي خوارکوټي د علاج پیسي نه لري ،او پلار یې هم تازه دنده له لاسه ورکړی .او نه شی کولای چې د خپل د ځوي د ده ( ورور) د تداوی خرڅ وکړي ، نو اته کلني سارا دا خبره واوریده چې پلار یې ډیر ورو د ده مور ته وویل :چې یواځي معجزه کولای شي چې زمونږ ځوی د دي مرضه څخه وژغوری ، ،اته کلنه سارا په ډیره خواشینی خپله کوټي ته ولاړه او د کټ لاندی نه یې د خپلو وړو پیسو هغه زیر مه یې چې په منګوټي کې وه هغه یې راویسته .او منګوټی یې په ځمکه ووهلو او مات یې کړلو ،او پیسي یې ټولي د کټ په سر واچولي پیسي یې یو په یو وشمیرلي پنځه ډالره شوي وي ،فقط پنځه ډالره ، پیسي یې د ځانه سیره واخیستۍ او د کور د شاتنۍ دروازی څخه په چټکۍ بهر ووته .او یو څو کوڅي پورته د یو درملتون مخي ته ولاړه ودریده ،د درملتون خاوند ډیر سخت بخت وو ، سارا ډیر صبر وکړ چې ګوندی د هغي ورته پام شي،لنډه یې دا چې د سارا حوصله تنګه شوه ،او پیسي یې د درملتون والا پر میز واچولي ،چې د پیسو شرنګارو جګ آواز وکړ. دارو جوړونکي او یا درملتون والا ترې و پوښتل: جینۍ څه غواړي ؟انجلی ورته په ماشومانه ژبه شرحه ورکړه ،چې زما د ورور په سر کې داسي یو مرض دی ،، چې پلار می وایي : چې معجزه کولای شي هغه وژغوري

زه هم غواړم چې معجزه و پیرم .انجلی وویل : آیا قیمت یې څومره دی ؟دارو جوړونکی یا درملتون والا ورته وویل :بخښنه غواړم انجلي ګلی، مونږ دلته معجزه نه خرڅوو.د انجلی سترګي د اوښکو نه ډکې شوي ،او وي ویل د خدای له پاره ورور می ډیر ناروغ دی ،او دغه پیسي هم زما خپلي دي نو تاسي ووایاست زه له کومه ځایه کولای شم چې معجزه وپیرم ؟

یو کس چې په درملتون کې لږ لیري ولاړ وو، د دي صحنی د لیدلو شاهد وو او ډیر قیمتي او فاخره جامی یې اغوستي وي ، نو د انجلی څخه یې و پوښتل چې بچی څومره پیسي لری ؟ انجلی ټولي وړې او ماتي پیسي چې پنځه ډالره کیدی په خپلي لپي کې ونیولي او سړي ته یې وښودلي . سړي ورته وویل: ډیره ښه ده ، او څومره په زړه پوری ده دا پیسي د معجزی د اخیستو د پاره بسیا دي ،نو وروسته یې په ډیره آرامتیا او مهربانۍد انجلی لاس ونیو او ورته یې وویل : چې زه غواړم ستاسي پلار او مور ووینم،او فکر کوم چې ستا د ورور معجزه ما سره وي ،دا سړی له نیک مرغه ډاکټر آرمسټرانګ د مغزو او د اعصابوډیر لوی او مشهوره

متخصص په شیکاګو کې وو ،په سبا یې د جراحی عمل د ماشوم په مغزو باندی د دي متخصص ډاکتر له خوا په بریالي توګه سر ته ورسیده ،وروسته د یو بریالي جراحی څخه پلار د ډاکتر مخي ته ورغی ،او وي ویل :ستاسو څخه ډیره مننه کوم ،او حیران یم چې ستاسو دا لوی احسان په کومو الفاظوتعریف کړم ،ما سره هغه الفاظ نشته ،او زما د ځوی ژغورنه خو یو واقعي معجزه وه ،زه نه پوهیږم چې په کومه ژبه ستاسو څخه مننه وکړم ،او د بله خوا زه غواړم چې پوه شم د دي جراهۍ د خرڅې په هکله چې زه څومره پیسي باید ورکړم؟ ډاکټر ډیریو معنی داره مسکا وکړه او وي ویل :فقط پنځه ډالره.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ